**د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ډيپلوماتيکو مأموريتونو بيانيه**

**پر افغانستان د طالبانو د پوځي واکمنۍ کليزه**

د ۱۴۰۱ کال د زمري څلورويشتمه/ د ۲۰۲۲ کال د آګست پنځلسمه

نن د طالبانو لخوا د افغانستان د جبري نيولو او نيواک څخه يو کال تيريږي، چې له امله يې هيواد په ژور سياسي، اقتصادي، ټولنيز او بشري ناورين کې ډوب شو. افغانان له اساسي خدمتونو بې برخې او له بشري حقونو څخه د سرغړونو او ناوړه ګټه‌اخيستنې، بې‌وزلۍ، جبر او وېرې سره مخ دي. د طالبانو ډلې جنګياليو د افغانستان د خلکو او نړيوالې ټولنې هغه لاسته‌وړانې چې له ۲۰۰۱ کال راهيسې د ګډو هڅو او قربانيو له لارې تر لاسه شوې وې؛ تقريباً په يوه شپه کې په اوبو لاهو کړې.

طالبانو ته د هغوی د تاوتريخوالي او ناروا ماهيت سره سره د ټولو افغانانو په ځانګړې توګه د ښځو او نجونو د اساسي حقونو، ټول‌ګډونه او ټاکنيزې حکومتولۍ او نورو بنسټيزو مسئلو په اړه د ځرګندو ژمنو د ترسره‌کولو فرصت ورکړل شو. ډېرى هيوادونو او نړيوالو سازمانونو لدې ډلې سره د خبرو اترو او ښکيلتيا پاليسي غوره کړه، په دې هيله چې دا ډول تعامل به د خلکو د هيلو سره سم د طالبانو چلند او عمل باندې مثبت اغېز ولري.

د يو کال په تېرېدو سره، طالبان په بشپړه توګه د خپلو ټولو ژمنو په عملي‌کولو کې په بشړه توګه پاتې راغلي او خپلې سخت‌دريځې تګلارې او لارښوونې يې يو ځل بيا پلې کړي دي. د نورو مواردو تر څنګ، دې ډلې په ثانوي زده‌کړو کې د نجونو ګډون منع کړی او په سيستماتيک ډول يې د ښځو او نجونو د کار کولو او په عام ژوند او ټولنه کې د هغوی د رغنده ونډې د لوبولو بنسټيز حق محدود کړی دی. له زده‌کړو څخه د نجونو منع‌کول نه يواځې دا چې له بشري حقونو څخه جدي سرغړونه بلل کيږي، بلکې د هېواد پرمختګ او راتلونکې هم له خطر سره مخامخ کوي.

خپل‌سري توقيفونه، د ښځينه فعالانو جبري يرغمل‌کول، جبري بې‌ځايه کيدل، ډله‌ييز مجازات، د لږکيو ډلو په ګډون، د رسنيو ځپل، غير قانونی وژنې او شکنجه‌کول، د ملي امنيتي ځواکونو د پخوانيو غړو او دولتي چارواکو په ګډون، د طالبانو تر واکمنۍ لاندې عادي کړنې دي. دا ډول کړنو، د مطلقې وېرې او فزيکي او رواني ناامنيو داسې يوه فضا رامنځته کړې چې په سلګونو زره افغانان يې د هېواد پرېښودلو ته اړ کړي دي.

طالبانو په پر له‌پسې توګه، د يوه ټول‌ګډونه او ټاکنيز حکومت د جوړولو لپاره چې په هېواد کې د سياسي ثبات او د ملي باور د ټينګښت لپاره مهمه اړتيا ده، ملي او نړيوالې غوښتنې رد کړې دي. د بېلابېلو ټولنيزو، توکميزو او سياسي ډګرونو څخه بېلابېل سياسي فعالان، د سياسي هوکړې او اجماع د ترلاسه‌کولو لپاره خبرو اترو ته چمتو دي. لکه څنګه چې دا موارد په افغانستان کې د وضعيت د باثباته سياسي حل د اړتيا پر بنسټ په بېلابېلو پروسو کې په ګوته شوي دي. په هر حال، طالبانو لکه څنګه چې د دوی د ۲۰۲۲ کال د مې په خپور شوي منشور کې ورته اشاره شوې؛ د خلکو پر بنسټ هر ډول حکومت ردوي او د افغان ولس د مطلق اکثريت او نړيوالې ټولنې د غوښتنو پر وړاندې د خپلې ځانګړې او جابرانه واکمنۍ په دوام کې پاتې راغلي او هيواد يې يوې خطرناکې لارې ته سوق کړی دی.

په افغانستان کې يو شمېر پېژندل‌شوېو نړيوالو او سيمه‌ييزو ترروريستي او افراطي ډلو يو ځل بيا پراخ حضور موندلی دی. په کابل کې د القاعدې د مشر ايمن الظواهري وژل کيدل ثابتوي چې طالبان د بهرنيو ترهګرو ډلو کوربه‌توب او پناه‌ځای لري چې د افغانستان، سيمې او ټولې نړۍ امنيت او ثبات ګواښي.

موږ باور لرو چې نړیواله ټولنه باید د طالبانو لخوا د خپلو څرګندو ژمنو د نه عملي کولو نه لېوالتیا او د افغانستان ناوړه امنیتي، بشري، اقتصادي، بشري حقونو، سیاسي او ټولنیز وضعیت ته په کتو سره، یوه نوې او همغږې شوې تګلاره غوره کړي. د وضعیت د ښه کولو او ثبات لپاره کېدای شي لاندینۍ تګلارې پام کې نیول کېدای شي:

١. په دوه اړخیزو او څو اړخیزو او د ښکیلتیا معنی لرونکو ډولونو کې د اغېزمنو اقداماتو رامنځته کول ترڅو په اغېزمنه توګه د طالبانو ډله د ټول ګډونه او مشروع حکومت د رامنځته کولو لپاره د خلکو غوښتنو ته ځواب ووایي. طالبان به د افغانستان د راتلونکې یوه برخه وي، خو د هغوی تر واک او تسلط لاندې به نه وي.

٢. له هغو ژمنو او رښتیني شخصیتونو سره تعامل چې د ډموکراتیکو ټولنو څخه یې ملاتړ ترلاسه کړی وي. د افغانستان خلک اوس هم هوډ لري چې وضعیت په ښه والي کې ونډه ولري او د خپل راتلونکې برخلیک خپله وټاکي. تجربه ښیي چې زموږ په متنوع ټولنه کې هیڅ نظام، د خلکو له ارادې، درناوي او منلو پرته دوام موندلای نشي.

٣. د بېلابېلو بهرنیو تروریستي ډلو له شتون څخه د رامنځته‌شوي ګواښ د مخنیوي لپاره چې د افغانستان، سیمې او ټولې نړۍ لپاره یو ستر امنیتي خطر بلل کېږي، د لا زیاتو همغږیو او اغېزمنو اقداماتو ترسره کول.

٤. د اړوندو طالب مشرانو لپاره د ملګرو ملتونو د سفر بندیز تقویه کول، ځکه چې دې ډلې په دوامداره توګه د سیاسي جوړجاړي لپاره د هیڅ معنی‌لرونکي خبرو اترو څخه د انکار کولو او همدارنګه د افغانستان د خلکو له حقونو څخه د سرغړونې لپاره د بندیزونو په رژیم کې د نویو اشخاصو لیست کولو څخه په دوامداره توګه د سفر بندیز له معافیت څخه ناوړه ګټه اخیستې ده.

5. د افغانانو د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره د بشري مرستو زیاتول.

٦. د ښځو، نجونو او نورو زیان‌منونکو ډلو د حقونو د ساتنې په ګډون د افغانستان د خلکو د بنسټیزو بشري حقونو د ساتنې لپاره دوه‌برابره ملاتړ.

٧. موږ په نړیواله ټولنه او ملګرو ملتونو غږ کوو چې د افغانستان خلکو د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره، د ټولو اړینو اقداماتو په ترسره کولو سره په افغانستان کې د اوسني اقتصادي، سیاسي او بشري ناورین لپاره عملي حل لارې ولټوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت ډیپلوماتیک مأموریتونه به زموږ د ملیونونو بې‌غږه هېوادوالو د اندېښنو، غوښتنو او هیلو په استازیتوب زموږ د ملت د ژوند په دې مهم پړاو کې خپل تاریخي مسؤولیت اداء کړي. موږ د دوامدارو قونسلي خدمتونو د چمتو کولو په ګډون، د مخ پر ودې او خوځنده ډیاسپورا ټولنې د اړتیاوو پوره کولو لپاره په کلکه ژمن یو. موږ همداراز ژمن یو چې له کوربه هیوادونو، د افغانستان له ملګرو او د افغانستان د ډیاسپورا له ټولنې سره او د یوه سوله‌ییز، باثباته او ډموکراتیک افغانستان د ترلاسه کولو لپاره چې زموږ د خلکو حقونه، عزت، وقار او اراده په کې خوندي وي، د نړیوالو هڅو په برخه کې د امکان تر حده په ګډه کار وکړو.

موږ د خپل هېواد د تاریخ په دې سخت وخت کې د افغانستان له خلکو سره د نړیوالې ټولنې د دوامدارې ژمنې له امله مننه کوو.

پای